هفته نامه

# تحصیلات عالی

شماره تماس: ۰۲۰۲۵۰۰۳۲۵

وب سایت وزارت: www.mohe.gov.af

آدرس الکترونیکی: info.pr@mohe.gov.af

شماره یکصد و پنجاه چهارم- سال هشتم- دلو -۱۳۹۸ ه. ش


## د خصوصي لوړو زده کړو مؤسساتو د پراختیا مشورتي بورډ غونډه جوړه شوه



## د افغانستان لوړې زده کړې د پرمختګ او نړیوال اعتبار نوي پړاو ته داخلیږي



# د خصوصي لوړو زده کړو مؤسساتو د پراختیا مشورتي بورډ غونډه جوړه شوه

د خصوصي لوړو زده کړو مؤسساتو د پراختیا مشورتي بورډ غونډه، د لوړو زده کړو سرپرست وزیر او علمي مرستیال پوهنمل عبدالتواب بالاکرزي تر مشرۍ لاندې جوړه شوه.



په دې غونډه کې د لوړو زده کړو وزارت د محصلانو چارو مرستیال پوهاند دوکتور بری صدیقي، د آزموینو د ملي اداري رئیس پوهاند عبدالقدیر خموش، د لوړو زده کړو وزارت یو شمیر مرکزي رئیسانو او د خصوصي لوړو زده کړو مؤسساتو استازو ګډون کړی و.

په غونډه کې د خصوصي لوړو زده کړو مؤسساتو د محصلانو ستونزو د حل په اړه د مسوولینو کاري راپور واوریدل شو او له هر اړخیزو خبرو وروسته پریکړه وشوه چې د خصوصي لوړو زده کړو هغه شمیر بنسټونه چې د شپږو میاشتو په تیریدو سره یې تر اوسه د آزموینو ملي اداري او له هغې لارې یې د خصوصي لوړو زده کړو موسساتو ریاست ته د خپلو خزاني سمسټرونو د کانکور آزموینې نتایجو په لیږلو کې ځنډ کړی، د (۱۳۹۸) د کب تر (۱) نیټې پورې وخت لري تر څو خپل نتایج ولیږي؛ له دې نه بغیر به یې په یاد سمسټر کې د محصلانو شاملیدل د لوړو زده کړو وزارت په وړاندې قانوني مشروعیت ونلري او د دې بنسټونو د (۱۳۹۹) کانکور آزموینه به هم و نه منل شي چې وروسته مسوولیت به یې د یادو بنسټونو په خپله غاړه وي؛ همدارنګه د لوړو زده کړو وزارت او خصوصي پوهنتونو او لوړو زده کړو موسساتو اتحادیې ځانګړې ملي کمیټه به هم د دغو بنسټونو اړوندو څانګو د تعلیق په هکله تصمیم ونیسي.

په یاده غونډه کې د خصوصي لوړو زده کړو موسساتو د آزموینو اخیستلو طرزالعمل چې د ځانګړې کمیټې له لوري له وړاندې چمتو شوی و، د تائید وړ وګرځید؛ همدا ډول بورډ د خصوصي لوړو زده کړو موسساتو د کانکور آزموینې د اخیستلو په اساس د ځانګړې کمیټې وړاندیز هم تائید کړ تر څو د خصوصي لوړو زده کړو موسساتو عمومي آزموینه په پسرلني سمسټر کې د ۱۳۹۸ د کب له ۱۰ نیټې څخه د کب تر ۳۰ نیټې پورې او د خصوصي لوړو زده کړو موسساتو پسرلنۍ متفرقه آزموینه د وري له اولې نیټې نیولې تر لسمې نیټې پورې اخیستل کیږي.

د جدید الشمول محصلانو لپاره د خصوصي لوړو زده کړو موسساتو د پسرلني سمسټر پیل هم د وري میاشتې له (۱۵) تر (۲۰) پورې وټاکل شو.



د ناستې په پای کې د لوړو زده کړو سرپرست وزیر پوهنمل عبدالتواب بالاکرزي لارښوونه وکړه تر څو ټول دولتي او خصوصي پوهنتونونه د لوړو زده کړو وزارت له اطلاعاتو، نشراتو او عامه اړیکو ریاست سره په همغږۍ، د افغانستان د دولتي او خصوصي پوهنتونو په اړه د معلوماتو کتاب د یونیسکو د اطلاعاتو نړیوال مرکز (National Information Center (NIC) په نوم د لوړو زده کړو وزارت په ویب سایټ کې چې وروسته به د یونیسکو سازمان (UNESCO) او د سویلي آسیا د سیمه ییزو همکاریو سازمان (SAARC) په وسیله د ګټې اخیستنې وړ وګرځي، تدوین او چمتو کړي.

# د افغانستان لوړې زده کړې د پرمختګ او نړیوال اعتبار نوي پړاو ته داخلیږي

د توکیو ۲۰۱۱ کنوانسیون سره د افغانستان الحاق د هیواد د کابینې له لوري تایید شو.




د توکیو ۲۰۱۱ کنوانسیون د آسیا او آرام سمندر په حوزه کې د وړتیاوو او تحصیلي مدارکو د پیژندنې لپاره علمي میثاق دی.

د لوړو زده کړو په تاریخ کې دا لومړی ځل دی چې افغانستان د یونیسکو له یو معتبر کنوانسیون سره ملحق کیږي، تر څو د تحصیلي اسنادو په رسمیت پیژندلو او د هیواد د پوهنتونو او لوړو زده کړو موسساتو د وړتیاوو په رسمیت پیژندلو کې آسانتیا رامنځته کړي.

د لوړو زده کړو سرپرست وزیر او علمي مرستیال پوهنمل عبدالتواب بالاکرزي وایي: "د توکیو ۲۰۱۱ کنوانسیون کې د افغانستان غړیتوب د کنوانسیون له خدمتونو او فعالیتونو څخه په ګټې اخیستنې د هیواد لوړو زده کړو د ښه والي لامل کیږي او په پای کې د افغانستان تحصیلي خدمتونو د وړاندې کولو او معیاري کولو په برخه کې آسانتیاوې رامنځته کوي".

له دې کنوانسیون سره ملحق کیدل په هیواد کې اړوندې اداري په یو لړ فعالیتونو مکلفوي، د هغو له جملې څخه د تحصیلي معلوماتي ملي مرکز جوړول او پراختیا چې په هغه کې به د پوهنتونو او لوړو زده کړو موسساتو ټولو قوانینو، مقرراتو، لوایحو، طرزالعملونو او د هیواد تحصیلي سیستم او د وړتیاوو د تثبیت چوکاټ پراختیا NQF ته لنډه کتنه تر سره کیږي او په پایله کې به د تحصیلي سیستم د اوچتوالي لامل او د هغه وړتیاوې او مدارک له نړیوال اعتبار څخه برخمن کیږي.

د لوړو زده کړو د پرمختګ لپاره د بشري بالقوه وړتیا څخه د زیاتې استفادې په موخه د کنوانسیون د غړو همکاري، د لوړو زده کړو مدارکو ارزونه، پیژندنه او په رسمیت پیژندل، د محصلینو او علمي کادر غړو نړیوال خوځښت، د اکاډمیکو تجربو تبادله، د یونیسکو په شمول له ټولو کنوانسیونو سره په نړیوالو همکاریو کې فعاله ونډه اخیستنه، د اړخونو تر منځ د اکاډمیک خوځښت دودول ددې کنوانسیون له موخو څخه ګڼل کیږي.

د لوړو زده کړو برنامو په ځانګړې ډول د کیفیت تضمین او اعتبار ورکول، تحصیلي نصاب، علمي څیړنې، انلاین زده کړې او د هیواد نور اکاډمیک فعالیتونه ددې کنوانسیون د الحاق د مکلفیتونو له لړۍ څخه بلل کیږي او د نړیوالې ټولنې د همکارۍ او پلوۍ فرصت به په وړاندې ولري.

د یادولو وړ ده چې د لوړو زده کړو نظام د کیفي لوړتیا او معیاري کولو په موخه د لوړو زده کړو وزارت د رهبرۍ هیئت هڅو او د هیواد د جمهوري ریاست مقام ملاتړ ته په پام، د توکیو ۲۰۱۱ کنوانسیون کې د افغانستان الحاق کولی شي یوه لویه لاسته راوړنه او د افغانستان د لوړو زده کړو په ۸۷ کلن تاریخ کې د عطف نقطه وګڼل شي.




لوړو زده کړو وزارت په دې برخه کې د افغانستان جلالتمآب ولسمشر او بهرنیو چارو او عدلیې وزارتونو له ملاتړ څخه مننه کوي.

# سرپرست وزارت تحصیلات عالی در دفتر کارش با والی نمیروز دیدار نمود

سرپرست وزارت تحصیلات عالی در دفتر کارش با والی نمیروز دیدار نموده در رابطه به وضعیت تحصیلی آن ولایت بحث و تبادل نظر نمودند.



در این دیدار پوهنمل عبدالتواب بالاکرزی معین علمی و سرپرست وزارت تحصیلات عالی، در مورد برنامه ها و پلان های انکشافی و توسعوی وزارت تحصیلات عالی در کشور به ویژه موضوع کمبود تشکیلات پوهنتونها، ایجاد ساختمان های جدید و ارتقای ظرفیت استاتید جوان معلومات داد.

وی گفت تشکیل اعضای کادر علمی و اداری نهاد های تحصیلات عالی کشور نهایی و به کمیسیون مستقل اصلاحات اداری فرستاده شده تا بعد از کارشناسی آنان و منظوری مقام ریاست جمهوری کشور؛ نهاد های تحصیلی کشور قادر خواهند شد تا در نیمه دوم ماه حمل سال روان اعضای کار علمی جدید خویش را جذب نمایند که به این اساس مشکلات نهاد های تحصیلی کشور در بخش کمبود استاتید مرفوع خواهد شد.



پوهنمل بالاکرزی همچنان در مورد طی مراحل تشکیلاتی پوهنځی های اقتصاد و زراعت که جدیداً در چوکات موسسه تحصیلات عالی نیمروز شامل شده اند، به والی آن ولایت معلومات ارایه نمود.

بعداً داکتر سید ولی سلطان والی نیمروز ضمن قدردانی از مقام وزارت تحصیلات عالی در قسمت توجه به نهاد های تحصیلات عالی کشور، یک سلسله خواست ها و پیشنهادات خویش را در عرصه تقویت و توسعه موسسه تحصیلات عالی نیمروز و ارتقای ظرفیت استاتید جوان با سرپرست وزارت تحصیلات عالی شریک ساخته و در مورد پیشرفت کار اعمار لیلیه آن موسسه که قرار است در شش طبقه اعمار گردد نیز معلومات ارایه نمود.

قابل ذکر است که موسسه تحصیلات عالی نیمروز در حال حاضر در پوهنځی تعلیم و تربیه خویش دارای ۱۸ تن استاد و ۳۱۰ تن محصل پسر و دختر می باشد.

# از نخستین سالروز وفات دکتور شریف فایض وزیر پیشین تحصیلات عالی یاد بود به عمل آمد

از نخستین سالروز وفات دکتور شریف فایض وزیر پیشین تحصیلات عالی و مؤسس پوهنتون امریکایی-افغانستان یاد بود به عمل آمد.



در محفلی که به این مناسبت در پوهنتون امریکایی-افغانستان دایر گردید؛ رییس اجراییه حکومت وحدت ملی، معین مالی و اداری وزارت تحصیلات عالی، رییس پوهنتون امریکایی-افغانستان، شخصیت های علمی و اکادمیک، اعضای خانواده مرحوم فایض، استادان و محصلان آن پوهنتون اشتراک نموده بودند.

دکتور عبدالله عبدالله رییس اجراییه حکومت وحدت ملی در رابطه به کارکرد ها و دستآوردهای شریف فایض در بخش های تحصیلات عالی اشاره نموده گفت که مرحوم فایض از شخصیت های مهم و تاثیرگزار در عرصه تحصیلات عالی کشور محسوب می گردد که تلاش های زیادی را به منظور رشد و توسعه نظام تحصیلات عالی افغانستان انجام داده و زحمات ایشان برای شهروندان حایز اهمیت می باشد.



دکتور احمد سیر مهجور معین مالی و اداری وزارت تحصیلات عالی در رابطه به چالش های گذشته و پیشرفت های کنونی نظام تحصیلات عالی کشور صحبت نموده گفت که دکتور فایض در انسجام خانواده تحصیلات عالی و انکشاف نظام تحصیلات عالی نقش برازنده را ایفا نموده است.

دکتور مهجور همچنان علاوه نمود که عملکردها و زحمات دکتور فایض در بازسازی زیرساخت های موسسات دکتور مهجور همچنان علاوه نمود که عملکردها و زحمات دکتور فایض در بازسازی زیرساخت های موسسات امریکایی-افغانستان برجسته بوده و این اقدامات در تاریخ نظام تحصیلات عالی جاویدان باقی خواهند ماند.

دیوید سدنی رییس پوهنتون امریکایی افغانستان از فعالیت های دکتور فایض قدردانی نموده گفت که ایشان بعد از زحمات زیادی توانست در سال ۲۰۰۶ میلادی دانشگاه امریکایی افغانستان را در کابل تأسیس نماید و روابط تحصیلی کابل-واشنگتن را بیشتر از پیش تقویت نماید.



قابل ذکر است که دکتور شریف فایض از سال ۱۳۸۱ الی ۱۳۸۳ بحیث وزیر تحصیلات عالی ایفای وظیفه نموده و یکی از موسسان پوهنتون تعلیم و تربیه شهید استاد ربانی کابل می باشد. وی در سال ۱۳۹۷ خورشیدی به اثر حمله قلبی دار فانی را وداع نمود.